مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۲/۰۷/۰۶

د افغانستان سیاسي - تأریخي ژرونال
یا
د افغانستان سیاسي - تأریخي ګزیتر

دریم ټوک
یوسلو څلورویشتمه برخه

هرات

او

او د افغانستان شمال لویدیځې برخې

تصحیحات

ډاکټر لودویک . ډبیلو. ادمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA
1975

لودویک آدمک

شـوز: ۶ – ۳۳، ۴۴ – ۶۲: دا د سیاه خانه وو د کیږدیو ځای دی چې د سبزوارو د سویل ختیځ په ۳۳ مایلی کې موقعیت لري. (امام شریف). داسې ښکاري چې له زیارتِ حاجي څخه راتلونکی د سنجد سیند د شَوز له سیند سره یو ځای کیږي؛ ورپسې دا دواړه یو ځای سوې اوبـهٔ د فراه ولایت ته ننوځي او د سویل پر لور مخ په فراه رودِ پر مخ ځغلي.
شرم: شارام: ۴۸ – ۳۴، ۴۵ – ۶۲ (ن): لوړوالی: ۴۸۲۰ فیټه. دا یو کوتل دی چې د زنده هاشم د غرونو پر سر له کشک څخه تر قلعـهٔ نو پورې لاره وربانديِ تیریږي. (کاتن) اوسنی نقشې د «سلسلـه کوهٔ بندِ شارام[1]» نوم ښیي.
شرف بلندي: دا جمشیدیانو یوه ځانګه ده.
شرک: همدا شان وګورئ: سرک: دا د پشتِ کوه د ولسوالی یو کلی دی. دې کلي کې ۱۴۰ کورنۍ ژوند کوي. دا کلی ۱۰ پګو ځمکه، ۳۰ ښونه او د څو فعالو کاریزونو ترڅنګ ۲ غیر فعال کاریزونه هم لري. (اس. ام. تییت، له بومي معلوماتو څخه *۱۹۰۵) اوسنی نقشې د سرک نوم ښیي.*
شرمي: یا: چرمي آب: ۲۶ – ۳۵ ، ۲۳ – ۶۱ (ن): دا په دوه وو کاسه ډنډونو کې دوه د اوبو چینې دي چې د ګلران – کاریز الیاس له لارې څخه نیم مایل لیرې او د کاریز الیاس له شمال ختیځ څخه ۳ مایله لیرې واقع دي. دلته ۳ څاه

[1] - Selsela Koh -i- Band -i- Sharam

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ګاني سته، چې په تيرو سمبال سوي او قطر ئې له ۲ تر ۳ فيټو دی، د اوبو ژوروالی له ۶ تر ۸ فيټو دی. اوبهٔ ئې ښې دي او د ځمکې له سطحې ۳ فيټه کښته دي. څاه ګانو ته نيږدې د اوبو څو وړوکي ډنډونه (آبخورونه) دي چې څاروي په کې اوبهٔ څښي. له دغهٔ کاسه ډنډ څخه څو سوه يارده پورته يو بل د اوبو ډنډ او مرطوبه ځمکه ده او هم په ختيځ کې ئې په بل کاسه ډنډ او د اوبو يو بل ډنډ سته. اوسنۍ نقشې د آب چرمي نوم ښيي.

شرشر: ۳۳ – ۳۴، ۴۵ – ۶۵: دا د چخچرانو په ولسوالۍ کې د استوګنې يوه سيمه ده چې د فيروزکوهي د قوم د زی حسيني څانګه په کې استوګنه ده. د استوګنې دې سيمې کې ۳۵۰ کورونه دي او کليوال ئې ۲۴۰۰ پسونه، ۷۵ آسونه، ۴۵۰ کورني څاروي لری. ددوی دوبني مرکزونه په «سر دو[2]» کې دي. د استوګنې دا سيمه په يوهٔ کرل سوي تګاو کې ده، دا تګاو په سويل لوري باندې را کوزيږي او له دولت ياره ۲/۱ ۴ مايله کښته په هريرود کې راڅرګنديږي. (دابس ۱۹۰۴) *همدا شان په همدغهٔ نامهٔ يو منځګړی دی چې په ۵۸ – ۳۳، ۹ – ۶۵ (ن) کې موقعيت لري.*

شاشاکار: ۲۲ – ۳۴، ۴۹ – ۶۱: دا يو پراخ په بوټو او سبزو پوښلی کاسه ډنډ دی، کم عمقه دی، په حقيقت کې ډبرين خوړ دی چې د سويل لويديځ تګلوري په لرلو له دشتِ ارديوان څخه د سنجاو پر سيند ورکوزيږي. داسې ښکاري چې دا خوړ د خپل بهيدا په پورتنۍ برخې کې د شور آو (شور آب – ژ) په نامهٔ ياديږي. (اې.بي.سي.)

شسکته: ۲۸ – ۳۴، ۳۳ – ۶۲ (ن) دا په کرخ کې يو کلی دی او ويل سوي چې ۲۰ کورونه لري. (اې. بي.سي.)

شاطر ناظر: ۲۸ – ۳۴، ۳۳ – ۶۲ (ن): دا د ۳۰ کورونه يو کلی دی چې ۱۱۰ تنه وګړي لري او د کرخ د لويديځ په ۲ مايلۍ کې موقعيت لري. ددې کلي د غنمو او وربشو کلنی حاصل تقريباً ۱۰۸۰ هندي مونده دی. ددې کلي ملک محمد خان نوميږي. کليوال ۴۰ کورني څاروي لري. (ونليس، اکتوبر ۱۹۰۳)

شيبرګ: ۱۷ – ۳۴، ۶ – ۶۴: دا د شهرک په ولسوالۍ کې د ۲۰ تايمني کورنيو د استوګنې يوه سيمه ده. (دابس ۱۹۰۴) د استوګنې دا سيمه د شهرک د شمال لويديځ په ۱۵ مايلۍ کې ده.

شيبِ کوه: ـ ۳۲، ـ ۶۱: دا د قلعهٔ کاه د ولسوالۍ سويلي ويش دی. (اس. ام. له بومي معلوماتو څخه ۱۹۰۳)

شيربکش: شير بخش: ۳۴ – ۳۳، ۵۵ – ۶۱: لوړوالی: ۴۳۸۰ فيټه. دا د لاش جوين – هرات د لارې په اوږدو کې دولسم منزل دی. د شير بخش دره يا کاسه ډنډ له شمال ختيځه مخ پر سويل لويديځ پر مخ ځغليدلې ده چې د ټيټو غرونو کتلو او متموجو موازي غونډيو په غيږ کې نيولې ده. په همدې منزل کې يوه څاه هم سته.

شير خج: ۲۱ – ۳۴، ۵۵ – ۶۳ (ن): دا يوه ستره تنګه دره ده چې مخ پر سويل راکوزيږي او د خواجه چشت او دهانِ هموار تر منځ په هريرود کې راڅرګنديږي. دې درې کې يو نسبتاً ښهٔ سيند بهيږي او څه ناڅه کرهڼه هم په کې سوې ده او د صالحي ۲۰ کورنۍ په دې درې کې ژوند کوي. (ميتلند) په دې درې کې يو کلی هم سته چې د دهانِ هموار د شمال لويديځ په ۳ مايلۍ کې موقعيت لري.

شيروان: ۱۸ – ۳۴، ۳ – ۶۳ (ن): دا د هريرود پر کيڼې غاړې له اوبې ۹ مايله کښته يو کلی دی. دا کلی ځکه له ورايه څرګند دی چې يو دنګ او لوړ څارکوټ لري او ويل کيږي چې ډير زوړ برج دی. ددې کلی استوګن وګړي داسې دي: ۲۲۰ کورنۍ د غلزيو، ۵۰ کورنۍ د تاجيکانو او ۵۴ د نورو قومونو. (اې. بي.سي.)

* **شش يار**: وګورئ: شش يار: ۴۹ – ۳۳، ۲۴ – ۶۳ (ن)

شورګ: شيوارګ: وګورئ: شيبرګ: ۱۵ – ۳۴، ۵ – ۶۴ (ن)

شيوجي: د درازي فيروزکوهيانو يوه څانګه ده.

* **شيبي**: وګورئ: سوجي: ۵۸ – ۳۴، ۵۸ – ۶۴ (ن)

شيګي: دا د محمودي فيروزکوهيان يوه څانګه ده.

شکسته سرخ: ۱۳ – ۳۴، ۵۰ – ۶۱: دا نوم هغو ټيټو، او کنډو کنډو غرونو ته ورکړل سوی چې د پره شمال لويديځ کې موقعيت لري او له پره څخه تر زنده جان پورې لاره ورڅخه تيريږي.

شين: ۲۲ – ۳۴، ۱۹ – ۶۳: دا د هريرود پر ښۍ غاړه له اوبې ۸ مايله پورته يو کوچنی کلی دی. دې کلي کې د نرخيلي غلزيو ۲۰ کورونه استوګن دي. (ميتلند)

شينيا: ۳۱ – ۳۴، ۳۹ – ۶۵ (ن): دا په دولت يار کې يو مشهور ځای دی، دا هغه ځای دی چې د لعل او سر جنګل سيندونه له هريرود سره له يو ځای کيدلو مخکې له يو بل سره ګډيږي د شينيا يا شينی کلي کې د درازي فيروزکوهي کوچيانو ۱۰۰۰ کورونه دي. دلته ډير لرګي سته چې اکثريت ئې د ولي د ونې دي. دلته د يوې فرقې لپاره د کمپ وهلو ځای هم سته او هم د اوښانو د څرلو لپاره ډير ځايونه سته چې سون توکي او د نورو څارويو د څرلو لپاره په کافي اندازه امکانات لري. دا دره دلته يو مايل پراخته ده، په کينه خوا کې ئې لوړ غرونه او په ښۍ خوا کې ئې ټيټ

[2] - Sar -i -Do

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

غرونه دي خو دا غرونه له ونو محروم دي.(ونليس ۱۹۰۴) *په اوسنيو نقشو کې دا نوم د شينه په ډول ليکل سوی دی.*
* **شيرمس**: وګورئ: شيرمست: ۲۹ – ۳۴، ۲۱ – ۶۲ (ن)
شيرمست: ۲۹ – ۳۴، ۲۱ – ۶۲ (ن): دا د هرات په ولسوالۍ کې يو کلی دی چې د سياه اَو د سيند په اوږدو کې د پاليزکار د سويل لويديځ په ۴ مايلۍ کې موقعيت لري. دلته د هراتيانو ۵۰ کورونه دي. (پيکاک: *دا کلی د هرات د شمال په نيږدې ۱۵ مايلۍ کې دی.*
شير روهک: ـ ۳۲، ـ ۶۱: دا د هريرود په اوږدو کې يوه کوچنۍ ولسوالي ده چې د کوهٔ انادر درې د سويل په ۱۲ مايلۍ کې موقعيت لري او د قلعهٔ کاه د حاکم تر ادارې لاندې ده. دا د سيستان – مشهد د لارې تر منځ معمول او مشهور منزل دی. دلته د اوبو يوه ډيره ښه چينه سته چې د چشمهٔ خاش په نامهٔ يادېږي او ډېر ښهٔ او لوی مالځر لري.
افغانانو (پښتنو) دلته په ۱۹۰۵ز کال کې يو استحکامي سرای جوړاوهٔ. (تيت له بومي معلوماتو څخه ۱۹۰۵)
شي شر: ۴۹ – ۳۳، ۳۴ – ۶۳ (ن): دا د فارسی د ختيځ په ۸ مايلۍ کې د تايمنيانو د استوګنې سيمه ده چې ۳۰ کورونه په کې دي. (صاحبداد خان) دا *نوم د شيشيار يا ششيار په ډول هم ليکل سوی دی.*
شيشماني: شش مني: دا د محمودي فيروزکوهيانو يوه ځانګه ده.
* **شيش پير**: شش پير کوه: ۱۸ – ۳۳، (۳۳ – ۲۰) – ۶۳: دا د غور او فراه د ولايتونو تر منځ د پولې يوه غرنۍ لړۍ ده.
* **شش يار**: وګورئ: ششار: ۴۹ – ۳۳، ۲۴ – ۶۳ (ن)
شيوان: ۱۸ – ۳۴، ۱۰ – ۶۲ (ن): ويل سوي چې د هرات په ولسوالۍ کې کوم کلی دی چې ۲۰۰ کورونه لري. (صاحبداد خان) *دا کلی د هرات د سويل لويديځ په نيږدې ۲ مايلۍ کې موقعيت لري.*
شوګاني: دا د تايمنيانو يوه ځانګه ده. (دابس، ۱۹۰۴)
شور آب: آبِ شور: ۱۵- ۳۵، ۰ – ۶۳: دا نوم د کشان د درې هغې برخې ته ورکړل سوی چې د توره شيخ سويل ته او يا له توره شيخه پورته واقع ده.
دلته په دې درې کې د مالځر لپاره پريمانه ځای سته؛ سره له دې چې کله نا کله ډيره وچيږي خو بيا هم وچ بوټي ئې د کچرو او آسونو د خوراک لپاره ښهٔ دي. (ونليس ۱۹۰۳) *ددې درې د سويل په نيږدې ۵ مايلۍ کې د آب شور کلی دی چې په ۱۲ – ۳۵، ۲ – ۶۳ (ن) کې موقعيت لري.*
شور آب: وګورئ: شور اَو
شور اَو: ۳۶ – ۳۴، ۳ – ۶۱: دا په همدغهٔ نامهٔ يوې دښتې کې د اوبو يوه ضعيفه چينه ده چې څنګ ته ئې څو ډنډکې دي چې د غوريانو د لويديځ – شمال لويديځ په ۳۱ مايلۍ کې موقعيت لري. ويل سوی چې دا ځای يو وخت ډېر ښيرازه او سمسور ځای وو چې ۸۰ کاريزونه ئې درلودل.
* **شور اَو**: ۳۰ – ۳۴، ۱ – ۶۲: دا د هرات د شمال لويديځ په ۲۰ مايلۍ کې يو کلی دی.
شور اَو: ۲۳ – ۳۵، ۵۷ – ۶۱ (ن): دا يو سيند دی چې د سياه بولک له غرونو څخه د عام شمالي تګلوري په لرلو سره اَو رهوک (آب رهوک) ته راکوزيږي او همدلته له (ايسليم روډ ګلران) سره يو ځای کيږي.
اوبهٔ ئې مالګيني دي او يوازې د څارويو لپاره مناسبې دي. (اې. بي. سي.)
* **شور اَو**: ۵۴ – ۳۴، ۲۷ – ۶۳ (ن): دا د قلعهٔ نو د سويل ختيځ په ۳۵ مايلۍ کې يو کلی دی. همدلته نيږدې يوه څاه هم سته چې په ۵۵ – ۳۴، ۲۷ – ۶۳ (ن) کې موقعيت لری.
شور اَو: ۵ – ۳۵، ۱۲ – ۶۳: دا يوه پراخه دره ده چې د قادس د ولسوالۍ له لارې د قلعهٔ نو د سيند، شمال لويديځ لور ته ډوبيږي او د قلعهٔ نو د کلا په نيږدې ۶ مايلۍ کې راڅرګنديږي. دا دره له قرچه ګي تګاو سره موازي پر مخ ځغلي چې په پای کې د مغر د کلا د شمال په ۴ مايلۍ کې له کلا جعفرقلی سره يو ځای کيږي. (وګورئ مغر) دا دره په لنګر کې کوم سيند نهٔ لري خو دلته ۴ يا ۵ کاريزونه لری. له همدې ځايه يوه لاره تللې او زموږ په باور چې د جعفر قلي درې ته تللې ده. جعفرقلي ته نيږدې د خوږ ارتوالی ۳۰ پاړه دی او د خوږ د ژيو لوړوالی ۲۴ فيټه دی؛ په خپله خوږ کې د اوبو بهير ۹ فيټه پلن او ۱ فيټ ژور دی. اوبهٔ ئې ترخې دي او بستر ئې بيخي باتلاقي دی. (اې.بي.سي.)
شورعرابه: شور اره با: ۱۱ – ۳۵، ۲۲ – ۶۲ (ن): دا يوه وچه، په سبزو او بوټو پوښلې دره ده چې د مايل د ربعې په اندازې ارتوالی لري او له شمال لويديځ لورې راکوزيږي او د کشک روډ په شيخ جنيد کې راڅرګنديږي. دې ځای ته يو ښهٔ په نښه سوی سړک راځي. ويل سوي چې دا لاره په عام ډول هغه آس سپاره نيسي چې له چمن بيد څخه تر کشک پورې راځي. (اې. بي. سي.)

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

شور آوک: شور آبک: ۴۳ – ۳۵، ۳۲ – ۶۳: دا یو لوی مالګین سیند دی چې د قراول خانې ددرې له سویلي خوا سره د قلعۀ ولي او ګله چشمې تر منځ یو ځای کیږي. (پیکاک)
شورګرد: ۲۳ – ۳۴، ۴ – ۶۳ (ن): دا د اوبې په ولسوالی کې یو کلی دی چې په همدغۀ نامۀ درې کې د اوبې د لویدیځ – شمال لویدیځ په ۲/۱ ۶ مایلی کې موقعیت لري. ددې کلي استوګن وګړي د غلزیو ۵۰ کورنۍ دي. دا دره چې سویل ته له دواندر څخه راکوزیږي له اوبې ۷ مایله کښته په هریرود کې راڅرګندیږي. دې ځای ته په کرخ کې له نوروز آباد څخه لاره راغلې ده. (دابس ۱۹۰۴)
شور بابا تنګی: ۵۴ – ۳۴، ۵۴ – ۶۲: دا یوه دره ده چې د «کناقل[3]» در درې او بلې هغې درې تر منځ موازې پرمخ تللې ده چې له قلعۀ نو څخه تر کشک پورې لاره د پدا له لارې ورغلې ده، *ددې سړک سویلي برخه د ۱۹۷۰ لسیزې په اوږدو کې کارول کیله.*
شجاع: ۳۹ – ۳۳، ۰ – ۶۴: دا په غوراتو کې یو کوتل دی چې د فارسي – ګرشک عمومي لاره ورڅخه تیریږي.
شلتري: ۵۳ – ۳۴، ۳۱ – ۶۲: دا د جمشیدیانو یو کلی دی چې د کشک د شمال په ۲ مایلی کې واقع دی. (ای.بي.سي.)
شوسک: – ۳۲، – ۶۱: دا د قلعۀ نو په ولسوالی کې یو کلی دی چې ۴۰۰ کورنۍ او ۱۲ پګو کرنیزه ځمکه، څلور بادي ژرندي، یوه د اوبو ژرنده ۲۰ انګور باغونه او ۲۱ بنونه لري. دا کلی د اوبو د موجوده سرچینو تر څنګ ۴ متروک غیر فعال کاریزونه هم لري. (اس. ام. تییت له بومي معلوماتو څخه ۱۹۰۳)
شترخون: همدا شان وګورئ: اُشتر خان: ۲۷ – ۳۴، ۱ – ۶۵ (ن): لوړوالی: ۱۰۵۴۰ فیټه: دا د بندِ بابان پر سر د شهرک له درې تر هریرود پورې یو کوتل دی. همدا شان په همدغۀ نامۀ یو کلی د آهنګرانو د سویل لویدیځ په ۲ مایلی کې سته.
شتر مرده: ۳۷ – ۳۴، ۴۵ – ۶۲ (ن): دا یو غیر مهم کوتل دی چې د بندِ بابا پر سر د کرخ له درې څخه تر کشک پورې لاره ورڅخه تیریږي.
داسې ښکاري چې دا کوتل دې بنوش درې د کوتل د ختیځ په څو مایلی کې وي او د بنوش درې د کوتل په شان له حوض امبر شان (عنبر شاه – ژ) ورته لاسرسی شونی دی، " مړ اوښ یا اوښ وژونکی" په خپله څرګندوي چې دا لاره د اوښانو لپاره څومره سخته ده. خو دا لاره د آس سپرو لپاره عملي لاره ده او ډیري مالداران ئې کاروي. دا لاره له حوض امبر شاه څخه د سیاه اَو (سیاه آب – ژ) تر تنګي درې پورې تللې ده؛ دا لاره له کوتله په تیریدلو ځان د «تی سرخ[4]» خوړ ته، د تګاو رباط له منځغري کښته، په همدغۀ نامۀ تنګي ته رسوي. ویل سوي چې له تنګي کښته لاره ډیره ورانه او بده ده؛ دا بد والی ان د بنوش درې د نالي تر یو ځای کیدلو پورې دوام لری حال دا چې دا منځغری په خپله د بنوش درې په نامۀ یادیږي. ویل سوي چې له تی سرخ پورته د څو مایلو لپاره لاره یا سړک نه سته یوازینۍ لاره چې تللې ده پل – لاره ده له دې کبله د زرمست د کوتل د سړک چې تګاو رباط ته ځي او ددې کوتل تر منځ چې شرحه سو ارتباط یا اتصال نه سته. (میتلند) *اوسنۍ نقشې د کوتلِ اوشتر مرده نوم ښیي.*
* **سیاه آب**: ۵۱- ۳۴، ۳۱- ۶۵ (ن): دا په یوۀ منځغري کې یو کوچنی کلی دی، دا منځغری شمال لور ته په نایکِ سیدانو کې د مرغاب پر سیند ورځي.
سیاه اَو: سیاه آب: – ۳۴، - ۶۲: لوړوالی: ۴۵۷۰ فیټه. دا د هرات د درې د شمال د اساسي لړۍ د څوکې په سویلي خوا کې یو کوتل دی چې د غرونو د لویدیځو لمنو په اوږدو کې له سنګ کوتل څخه تر درختِ توت پورې راغلې لاره ورڅخه تیریږي. پیکاک د ۱۸۸۵ز کال د مې په میاشت کې له همدې کوتله اوښتی دی او د خپل د سفر شرحه په دې ځای کې داسې وړاندې کوي:
" د سنګ کوتل څوکې ته په بیرته راستنیدلو مې په لویدیځې خوا کې مې یوه لنډه لاره ونیوله او په دې سره د «ایستوغونچیل[5]» ددرې سرته وختلم، په خپله د ایستوغونچیل دره په همدغۀ نامۀ یوۀ کاریز ته چې په خولۀ کې ئې واقع دی کوزه سوې ده. د استوغونچیل دره پراخه، شنه، کم عمقه دره لکه قول یا کاسه ډنډ ده چې یوه ویالۀ لري او د ویالې اوبۀ ئې هیڅکله نه وچیږي. همدلته په چشمۀ ایستوغونچیل کې د کمپ وهلو لپاره ښۀ ځای سته چې ان د کال په وچ ترینه فصل کې هم اوبۀ لري او د شین غزو یو شمیر تنکي بوټي هم لري. د غرونو له شاوو خواوو څخه د پسونو په پلونو یوه ستوغه نرۍ غرنۍ لاره (بُر رَو لاره – ژ) لاره له ایستوغونچیل څخه پورته ختلې ده او بیا د همدې غرنۍ لړۍ په شمال کې په درۀ کشوکې باندې راکوزیږي، او بیا په رباط سرګردان کې له دره خواجه دوبرار سره یو ځای کیږي. شپانۀ دا لارې د کشوکې د لارې په نامۀ یادوي. دا یوه سخته لاره ده چې یوازې د پلې کسانو د تګ لپاره ده بس.

[3] - Kanakul
[4] - Tai Surkh
[5] - Istoghunchil valley

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له چشمـهٔ ایستوغونچیل مې مخه لویدیځ لور ته د غرونو په لمنو کې تاو کړه. دلته یوازې یوه نرۍ لاره تللې ده، دا لاره له یوهٔ پراخ، زرغون او په بوټو ډک قول له منځه پرمخ ځي او له دې ځایه پر یوهٔ خط الرأس ور اوړي بیا همدغـهٔ قول ته رسیږي، ایستوغونچیل ته په بل قول کې چشمـهٔ اولنګ ده؛ په دغو ټولو قولونو کې په هر یوهٔ کې ئـې د اوبو یوه چینه سته.
ویل سوي چې په خپله د اوبو چینې ټول کال اوبـهٔ لري خو هغه ویالې چې له دغو چینو څخه دغو قولونو یا کاسه ډنډونو ته بهیږي د جون د میاشتې د پای په شاو خواوو کې وچې وي. دا ټوله ځمکه اوس په ښې سبزې پوښل سوې ده او زه د کوچې شپنو د کیږدیو له څو کمپونو څخه چې عربان، افغانان (پښتانـهٔ - ژ) ول تیر سوم. لاره تر ۴ مایلو پورې د هر وسلوال ځواک د هر ډول وسلو او ځواک لپاره آسانه ده. له څلورو مایلو وروسته لاره د لوړ سطحې په مسلسلو لړیو ان د اساسي غرونو تر سویل پورې پورته خیږي. ختل د نیم مایل په واټن پر ستوغې غرنۍ ډډې له ختلو وروسته یوې چړایې باندې پای ته ورسید او دا ځای یوې مخ خلاصې لوړې سطحې ته ورسید چې د کوتلِ سیاه اَو (کوتل سیاه آب – ژ) په نامـهٔ یادیږي. د ختلو ددې لارې په اوږدو کې د اوښ د تګ لپاره یوه ښه لاره سته. خاوره ئـې د رس ده چې په متداوم ډول ډبرې ورڅخه راوتلې دي. هغه غرنۍ څوکه چې په دې کوتل کې راڅرګندیږي همدلته ان د ټولې غرنۍ لړۍ په اندازې لوړه ده او د کوهٔ چهار اولنګ په نامـهٔ یاییږي. د سیاه اَو د کوتل ارتفاع ۴۵۷۰ فیټه ده.
د کښته کیدلو لاره د سیاه اَو (آب) د قول یا کاسه ډنډ په کنډو او غرنۍ ډډې کیږي چې اووهٔ مایلو ته ورسیدله. اوسمهال د سیاه اَو د اوبو بهیر ډیر پیاوړی دی او ویل سوي چې هیڅکله نـهٔ وچیږي. دا اوبـهٔ د همدم اَو (همدم آب) دښتې او بیا لوکه سنګ ته (له دې ځایه د یوهٔ فرسخ په واټن) غورځي ، دا ځای تل اوبـهٔ لري. دا اوبـهٔ په ژمي کې «تیرپول» ته لویږي او تر تیرپول پورې یوه لاره تللې ده.
درختِ توت ته تر ټولو ښه لاره له همدې ځایه د سیاه اَو له کاسه ډنډه تللې ده. دا د اوښ د تګ لاره ده او د کاسه ډنډ په سر کې د لوړې سطحې یوې شنې مخ خلاصې رغیانې پر مخ ځي چې له همدې ځایه د کوتل سر ته ورخیږي.
له ما سره مل زما د لارې لارښود ونـهٔ غوښتل چې زه پر دې لارې لاړ سم او دلیل ئـې راته تر اوسه نـهٔ دی ویلای چې ولې. موږ خپلې لارې ته تر غرونو لاندې د تللې لارې په اوږدو کې تر هغو دوام ورکړ چې له ۹ مایلو مزل وروسته د دهانـهٔ درختِ توت ته ورسیدلو." (پیکاک)
سیاه اَو: ۳۱ – ۳۴ ، ۲۵ – ۶۲ (ن): دا یو سیند دی چې له هغې ډبرینې درې څخه راپورته کیږي چې د بندِ بابا له اصلي لړۍ څخه د کوهٔ کیتو جدا سوی خط الرأس جلا کوي او له کهنه رباط کښته ورسره د تخک سیند یو ځای کیږي او درهٔ تخک ته له بهیدلو وروسته دشت کیتو ته ننوځي. دا سیند له دِهٔ مغل ۳ مایله کښته سویل – ختیځ خوا ته کوږ کیږي او د هغو جلا سویو غرنیو غونډیو سویل ته بهیږي چې د «کوهٔ حصار غلامهک[6]» په نامـهٔ یادیږي او بیا د خواجه گذر په تشې کې له روډ کرخ سره یو ځای کیږي. د روډِ سیاه اَو (آب – ژ) په دواړو خواوو کې دښته په پراخ ډول په غلاتو کرل سوې ده.
له هغـهٔ ځایه څخه چې د پروانه – پالیز کار لاره تیریږي د اوبو بهیر د دښتې له سطحې څخه له ۳۰ تر ۵۰ فیټو ژور په یوې نالې کې چې ۲۵۰ یاردِه ارته ده دوبـیږي. د نالې دواړه غاړې د سړک لپاره نرۍ سوې دي . د ختلو او کښته کیدلو د سختوالي درجه یو په ۶ ده چې تر ۴۰ یاردو پورې همدا سختې لري. دا اوبـهٔ هیڅکله نـهٔ وچیږي.
(پیکاک) *هغه نقشې چې په دې ټوک کې ضمیمه سوې د روډِ سیاه آب نوم ښیي چې کیدای سي یوه جغرافیوي تیروتنه وي.*
سیاه اوشان: وگورئ: سیاه وشان: ۱۴ – ۳۴، ۱۷ – ۶۲ (ن)
* **سیاه بولک**: ۱۶ – ۳۵ ، ۲۸ – ۶۱: دا د گلرانو په شمال لویدیځ کې یو غر دی.
سیاه بویک: ۵۰ – ۳۴، ۴۰ – ۶۱ (ن): دا یوه غرنۍ لړۍ ده چې د بندِ سفید کوه (سپین غرهٔ - ژ) په یو ناڅاپي شمال کې، د قره باغ د سویل لویدیځ په نیږدې ۱۰ مایلې کې واقع ده.
سیاه چوب: ۱ – ۳۴، ۲۹ – ۶۵ (ن): دا د دولت یار په سویل کې او د غوراتو د شمال ختیځ په منتهی الیه کې د تایمنیانو یوه کوچنۍ ولسوالي ده. هغه معلومات چې صاحبداد خان ترلاسه کړي دي ویل کیږي چې دلته د تایمنیانو ۷۰ کورنۍ، د هزاره گانو ۲۰۰ کورنۍ، او د سیدانو ۳۰ کورنۍ ژوند کوي. زموږ په باور کلا سیاه چوب (چې سیچو تلفظ کیږي) د پله سنګ د سویل ختیځ په دوه وو مارشو واټن کې واقع ده. (ای.بي. سي.)
* **سیاه چوبک**: ۲۲ – ۳۴، ۴۴ – ۶۲ (ن): دا د «داوندر[7]» د غرنۍ لړۍ پر سر یو کوتل دی چې د کرخ د سویل ختیځ په ۱۹ مایلې کې واقع دی.

[6] - Koh -i- Hissar Ghulamhak
[7] - Dawindar range

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

سیاه کوه: فریبر دا نوم هغو غرونو ته ورکوي چې په سویل کې د هریرود کرښې جوړوي او میلتند په دې لړ کې د خپلې کتنې په ترڅ کې وایي: "دا باید په یو دم د ټولو لپاره شرحه سي ځکه د سفید کوه او سیاه کوه نوموونه چې فریبر د هریرود د دري شمالي او سویلي غرنیو لړیو لپاره کارولي دي یوازې د هغهٔ ذهني تصور وو؛ او د تأسف وړ خبره دا ده کله چې په نقشو کې دا نومونه راوړل سوي دي نو ورته دائمي بڼه ورکړل سوې ده. هریرود ته نیږدې هیڅ ډول سیاه کوه نهٔ سته خو د سفید کوه نوم د سیند په سویل کې په هغو غرونو پورې اړه لري چې د هرات د دري او اوبې تر منځ واقع دي." *میتلند غلط سوی دی: د سیاه کو غرنی لړی د هریرود په سویل کې سته چې د فراه له شمال ختیځه د غور د ولایت له منځه په تیریدلو تر چخانسور او دولت یار پورې غځېدلې ده. وګورئ: په همدې ټوک کې ضمیمه نقشې.*

سیاه لاخ: ۵۱ – ۳۳، ۵۰ – ۶۲: دا د سه درخت په دره کې د نورزیو د استوګنې یوه کوچنۍ سیمه ده. (مرک) *دا سیمه د فارسي د لویدیځ په ۳۰ مایلۍ کې ده.*

سیاه سنگ: ۴۹ – ۳۳، ۲۱ – ۶۳: دا خرم شهر ته د تللې لارې په اوږدو کې د فارسي د ختیځ په ۹ مایلۍ کې یو کلی دی. دلته د «زی یاران تایمنیانو[8]» ۲۰ کورونه دي. (صاحبداد خان)

سیاه سنگ: ۳۳ – ۳۴، ۱۹ – ۶۵ (ن): دا د چخچرانو په ولسوالۍ کې د استوګنې یوه سیمه ده چې د فیروزکوهي د قوم د خدایاري قبیله په کې اوسیږي. دلته ددوی ۲۰۰ کورونه دي چې ۱۰۰۰ پسونه هم لري. ددوی د دوبې مرکزونه په کروبې کې دي. (دابس، ۱۹۰۴)

* **سیاه سنگ:** ۴۸ – ۳۳، ۱۴ ۶۲: دا یوه تنګه دره ده چې د سبزوارو د شمال په ۴۰ مایلۍ کې موقعیت لري.

سیاه سنگ: دا د چغچرانو په ولسوالۍ کې د فیروزکوهیانو په سیمې کې یو کلی دی. دا کلی د زی رضاء د ځانګې ۳۰ کورنۍ لري. (ای. بي. سي.) کیدای سي دا کلی د سیاه خاک له کلي سره یو وي چې په ۲۶ – ۳۴، ۱۶ – ۶۵ کې موقعیت لري.

سیاه سر: ۱۲ – ۳۳، ۱۱ – ۶۲: دا د سبزوارو په علاقه دارۍ فرماخان کې د نورزیو یو کلی دی. (دابس، ۱۹۰۴)

سیاه وشان: ۱۴ – ۳۴، ۱۷ – ۶۲ (ن): دا نوم د کوچنیو کلیو او انګړونو یوې ډلې ته ورکړل سوی دی چې له روضه باغ څخه مخ په سویل ختیځ د دوه نیم مایلو په اوږدو غځېدلي دي. (میتلند) *دا نوم د سیاه ووشان په ډول هم لیکل سوی دی. دا کلی د هرات په سویل ختیځ کې ۱۲ مایله اوږدوالی لري.*

سیبا راز: ۲۱ – ۳۴، ۳۵ – ۶۳ (ن): دا د هریرود په کینې غاړې کې له اوبې ۲/۱ ۲۶ مایله پورته یو کلی دی چې د قبچاقانو او خواجه ګانو ۲۰۰ کورنۍ په کې استوګنې دي. د قبچاقانو د کورنیو شمیر ۱۰۰ کورنۍ دی. ددوی د کلي ملک په ۱۹۰۴ز کال مصطفی نومیدهٔ چې په دې سیمې کې ډیر متنفذ سړی دی. دوی ۶۰۰ کورنې څاروي، ۲۰۰ پسونه او وزې، ۸۰ آسونه او ۵۰ اوښان لري. ددوی کرنیز کلنی حاصل ۱۰۰۰۰ مونډه دی او د پام وړ کرنیزه ځمکه لري. دلته د خواجه نظام الدین په نامهٔ یو زیارت دی او هم یوه کنډواله کلا سته. دا کلا په همدغهٔ نامهٔ یوهٔ تګاو کې ده چې دلته که ځواک تیت سي د کمپ وهلو لپاره ئې پریمانه ځای سته. دلته د اوښانو د څرلو لپاره ډیره ځمکه سته او هم پریمانه اوبهٔ لري، خو سون لرګي په ندرت په کې موندل کېږي. (میتلند، صاحبداد خان) *د دې کلي نوم د «سَوَرز او اسفَرز[9]» په ډول هم لیکل سوی دی.*

* **سه برزه:** وګورئ: سابرزه: ۲۴ – ۳۴، ۷ – ۶۳ (ن)

سیلین جو: ۷ – ۳۴، ۵ – ۶۳: دا یو ټیټ کوتل دی چې له ایشلان تګاو څخه تر تغمن کوه پورې لاره ورڅخه تیریږي. د کوتل سر ته ختل ستوغ دي خو لاره ارته او ښه ده. سویل لوري ته کښته کیدل آسانه دي. وګورئ: وَرَس. (صاحبداد خان)

* **سیم کوه:** ۱۳ – ۳۵، ۲۴ – ۶۱ (ن): دا په بادغیس کې یو غر دی چې د ګلران د شمال لویدځ په ۲۰ مایلۍ کې موقعیت لري.

سیني: وګورئ: سیني: ۲۳ – ۳۳، ۲ – ۶۵ (ن)

سیني: دا د تایمنیانو یوه ځانګه ده. همدا شان په بالامرغاب کې په ۳۷ – ۳۵، ۲۱ – ۶۳ کې د یوهٔ ځای نوم دی.

سنجاني: دا د تایمنیانو یوه ځانګه ده.

سنج اَو: سنج: آب: ۲۹ – ۳۴، ۵۴ – ۶۱: دا یو سیند دی چې د اردیوان د کوتل له سویلي خوا سرچینه اخلی او د ملا خواجه په خط الرأس کې د شهر اندک د تشې له لار تر هریرود پورې ځي او شیخوان ته نیږدې له هریرود سره یو ځای کیږي. ددې دري کښتنۍ برخه د دهانِ شهر اندک په نامهٔ یادیږي او یا اکثراً په لندیز سره د هانِ شهر په نامهٔ یادیږي. د اردیوان کوتل ته یوه ښه او آسانه لاره تللې ده. دا سیندګی د شهر اندک له تشې کښته په یوهٔ کانال کې

---

[8] - Zaiyaran Taimanis

[9] - Sawarz and Esfarz

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تیت کیږي. په وچو فصلونو کې په دې کانال باندې د جوی ممیزک اوبـۀ را اوړي چې د کاروبار له نالې څخه سرچینه اخلي. د سیلاب پر مهال اوبـۀ د کانال غاړې ماتوي او بیا په خپل طبیعي کانال کې تر هریرود پورې بهیږي.
سنجتر: دا د کوچیاني اسحق زیو او هزاره ګانو د ۳۰۰ کورنیو د استوګنې د سیمې نوم دی. دوی د پسونو رمې لري. دا ځای له پُل مرغاب څخه تقریباً ۱۲ مایله لیرې واقع دی. (بومي معلومات ۱۹۰۷)
* **سنجت**: (سنجد – ژ):۵۱ – ۳۳، ۳۳ – ۶۲: د فارسي د شمال لویدیځ په ۵۵ مایلۍ کې یو سیند دی چې پر سه درخت ورننوځي.
* **سنجت**: (سنجد – ژ): ۳۰ – ۳۵، ۴۸ – ۶۳: د بالامرغاب د سویل ختیځ په ۳۶ مایلۍ کې یوه څاه ده. په همدغـۀ نامـۀ یو کلی د سبزوارو د ختیځ په ۵۵ مایلۍ کې په ۲۴ – ۳۳، ۵۳ – ۶۲ کې موقعیت لري.
سِنجت: همدا شان وګورئ: سَنجت
سنجتک: ۵۹ – ۳۴ ، ۹ – ۶۳ (ن): دا د یوۀ کلي او یوې کوچنۍ درې نوم دی، دا دره لویدیځ لور ته مخ په قلعـۀ نو پر مخ تللې ده. په هغـۀ ټکي کې چې د مغر لاره ننوځي یعنی د قلعـۀ نو په تقریباق ۴/۱ ۲ مایلۍ کې، دا دره ۵۰۰ یارډه پلنه ده او تقریباً ټوله ئـې تر کښت لاندې ده. هغو غرونو چې دا دره په غیږ کې نیولې ده ګردې هرمې ډوله غرونه دي چې ظاهراً لوخ غرونه دي او هیڅ ډول بوټي او واښـۀ یا کرهنه په کې نـۀ سته. لاره فوق العاده همواره او ښه ده. دا لاره په مجردې چې درې ته ننوځي د یوۀ تنګ سیند له پاسه تیریږي، د سیند غاړې دومره ستوغې دي چې د عراده جاتو د تګ لپاره چنداني خوندورې نـۀ دي.
دره داسې یو ظاهر لري چې ډیرې وختونه سیلابونه ورباندې راځي، یوه نرۍ خو په کین لور کې یوه ښوییدلې ترانګه د لارې په توګه سته چې لوړوالی ئـې کښته او پورته دواړه له ۵ تر ۱۰ فیټو پورې ځای ځای توپیر کوی او کیدای سي خلکو په همداسې وختونو کې ورڅخه کار اخیستی وي. (ګالیندو)
سنجتک: ۱۶ – ۳۴، ۳۸ – ۶۲ (ن): دا یو کلی دی چې د هریرود له کینې غاړې په لږ واټن کې او د روضه باغ د ختیځ په ۲۷ مایلۍ کې موقعیت لري. له دې کلي څخه د سنجتک تر کلا پورې یوه ښه لاره تللې ده، دا لاره نسبتاً ښه لاره ده او بیخ ئـې ټینګ دی. دا نوم د سَنجتک په ډول هم تلفظ کیږي.
سنجتک: وګورئ: سَنجتک
سنجتي: ۵ – ۳۴، ۳۸ – ۶۱: دا یو کوتل دی چې د دو شاخ د غرونو له سره تیر سوی دی. وګورئ: کشمارون
سیروان: وګورئ: شیروان: ۱۸ – ۳۴، ۳ – ۶۳ (ن)
سوتِه [10]: دا د جمشیدي د قوم یوه قبیله ده.
* **سَوَرز**: وګورئ: سَبَرز: ۲۱ – ۳۴، ۳۳ – ۶۳ (ن)
صوفک: ۳۵ – ۳۴، ۹ – ۶۵ (ن): زموږ په باور دا په چغچرانو کې یو کلی دی چې د فیروزکوهیانو د یار فولادي د قبیلې ۴۰ کورنۍ په کې استوګنې دي. (اې.بي.سي.) دا کلی د چغچرانو د شمال لویدیځ په ۸ مایلۍ کې دی.
* **سوج**: ۵۸ – ۳۴، ۵۸ – ۶۴ (ن): دا نوم د سیویج په ډول تلفظ کیږي او شیبي هم ویل سوی دی؛ دا یو کلی دی چې د «قشلاق درۀ کشک» د سویل ختیځ په ۷ مایلۍ کې موقعیت لري.
سُلک دار: سولاخ دار (سوراخ دار - ژ): ۱۴ – ۳۳، ۵۵ – ۶۱: لوړوالی: ۴۶۰۵ فیټه: دا دوه ستري ډبرینې غونډۍ دي چې د لاش – جوین د لارې ښۍ غاړې ته نیږدې د کاریز «کـَشت او مندال» ترمنځ واقع دي. دغه غونډۍ یا په بله وینا غرونه چې د خپل نامـۀ تسمیوي وجهه له سولـَک (یعنی سوړې) یا سوري یا چاودې یا درز څخه اخلي له ټیټ خط الرأس سره یو ځای کـېږي. ددغو غونډیو نیږدې ترینه لوړوالی ښایي هماغه سلک دار (سولاخ دار – ژ) وي. دا ځای یوه ویشل سوې څوکه لري او (د خلکو په باور - ژ) کیدای سي دا ځای د (حضرت – ژ) علي (رض – ژ) د توري په ګوزار ځیری سوی وي. (میتلند)
سولیمي: سلیمي: ۱۵ – ۳۴، ۲۹ – ۶۲ (ن): دا د هریرود پر کینې غاړې نیږدې ۴ مایله لیرې او د تونیان سویل ته یو کلی دی. ویل سوي چې دلته ۲۷۰ کورنۍ استوګنه لري. (اې.بي.سي.) *په اوسنیو نقشو کې دا نوم د سلیمي په بڼه لیکل سوی دی.*
* **سُلمه**: وګورئ: سَلمه: ۲۱ – ۳۴، ۵۰ - ۶۳ (ن)
سلطان یاري: دا د فیروزکوهیانو یوه قومي څانګه ده.
* **سُمبه کاریز**: وګورئ: سَمبهه کاریز: ۲۳ ۰ ۳۵، ۴۷ – ۶۱ (ن)

[10] - SOTA : A subdivision of the Jamshedis.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

سُمبه کــج: ۳ ــ ۳۵، ۳۰ ــ ۶۴: دا د فیروزکوهیانو په سیمي کي یوه کوچنۍ ولسوالۍ ډوله سیمه ده؛ زموږ په باور دا سیمه د مرغاب په سویل کي (سرَتور) (سر تاوه) ته نیږدې پرته ده. دې سیمې کي د درازي د قبیلې د قلیچي تبر اوسیږي. (میتلند)
سُـني: ۲۱ ـ ۳۴ ، ۳۷ ــ ۶۳ (ن): دا هغه تگاو دی چې له خواجه چشت ۸ مایله کښته په هریرود کي راڅرگندیږي. ویل سوي چې دلته پریمانه کرهنه سوې ده، ددې تگاو په خولـۀ کي «اولنگِ سني» واقع دی، دا یوه تکه شنه رغیانه ده خو د کمې لپاره کوچنی ځای لري. (میتلند) *ددې تگاو شمال ته یو غر دی چې په اوسنیو نقشو کي د « بندِ تگابِ سني» په نامـۀ یاد سوی دی.*
سور: ۲۳ ــ ۳۴، ۶۳ ــ ۲۹ (ن): دا یوه ښایسته تنگه دره یا منځغری دی چې پریمانه ونې او لرگي لری، په منځ کي ئـې یو ښایسته سیندگی بهیږي، دا سیندگی له خواجه چشت څخه ۱۸ مایله کښته سویل کي پر هریرود ورکوزیږي. ددې منځغري خولـۀ کي یو کنډواله کلی دی؛ د کلي څنگ ته د قبچاقانو څو خرگاه گانې دي چې له لږ کرهنه په کي سوې ده. (دابس ۱۹۰۴) *اوسنۍ نقشې دا نوم د تگابِ سور په ډول ښیي.*
سرخ: ۴ ــ ۳۵، ۳۰ ــ ۶۱: لوړوالی: ۴۳۵۰ فیټه. دا یو کوتل دی او د هغو غرونو پر سر دی چې د غوریانو ولسوالي له بادغیسه جلا کوي. وگورئ: رباطِ سرخ.
* **سرخ:** ۳۹ ــ ۳۴، ۴۶ ــ ۶۴ (ن): دا د آقا گمبد (گنبد ــ ژ) د شمال ختیځ په ۷ مایلۍ کي یو کلی دی. ددې کلي شمال او ختیځ کي یو ځای دی چې د «جرِ سرخ» په نامـۀ یادیږي.
سرخ: ۲۲ ــ ۳۴، ۲۱ ــ ۶۲ (ن): دا یو کنډواله رباط او ډنډ دی چې د کرخ ددرې د خولـۀ په هغـۀ ټکي کي موقعیت لري چې د هرات په درې کي راوځي. دا رباط د هرات د شمال ختیځ په ۱۳ مایلۍ کي ده چې د هرات د ځمکي له سطحي ۳۰۰ فیټه لوړوالی لري او د کرخ او زرمست د کوتل له لارې کشک ته د تللي سړک په اوږدو کي ددمې نیولو ځای دی. د کرخ سیند ددې لارې د ختیځ په څو سوه یاردۍ کي بهیږي. د کنډواله رباط د سویل ختیځ په نیږدې نیم مایلۍ کي د رباطِ سرخ کوچنی کلی موقعیت لري چې ۲۰ کورونه لري او تر کلي یو دیوال راتاو دی. کلیوال ئـې ۷۰ کورني څاروي، ۹۰۰ پسونه او وزې لری. ددې کلي د کرهنې کلنی حاصل چې غنم او وربشي دي ۳۰۰۰ هندي مونده دی. د هرات د درې دې برخې کي زښته ډیره کرهنه سوې او هر گوټ کي ئـې کلي دي چې د اوبو لگولو کانالونو له یو بله جلا کړي دي. د کرخ له درې ۳ مایله نور پورته له دې سیند سره د سیاه اَو (سیاه آب ــ ژ) او «خواجه جیر» نهرونه یو ځای کیږي. دا دریواړو سیندونو له یو ځای کیدلو وروسته دا سیند ځکه د (پښتون) په نامـۀ یادیږي همدلته د (پښتون) په نامـۀ یو کلی دی او ظلک ئـې په خپلو ورځنیو محارو کي د پښتون زرغون سیند بولي. (ونلیس اکتوبر ۱۹۰۳) دا کلی اوس د رباطِ سرخ په نامـۀ یادیږي. په همدغـۀ نامـۀ بل کلی په ۱۳ ــ ۳۴، ۵۷ ــ ۶۱ (ن) کي موقعیت لري.
سرخ: ۰ ــ ۳۳، ۴۰ ــ ۶۲: لوړوالی: ۵۰۰۰ فیټه: د سرو ډبرینو غرونو یو ټیټ خط الرأس دی چې د لاش جوین ــ هرات د لارې یوې برخې کي د جمال غازي ــ کاریز دشت پر کینې غاړې باندې واقع دی. ددې خط الرأس په سویل ختیځ کي پای کي «چاهٔ کوهٔ سرخ» موقعیت لري چې لږ اوبـۀ لري. دا ځاه د هغو شپنو له پلوه په متناوب ډول پاکه کیږي چې له دې ځاه څخه کار اخلي. (میتلند)
سرخ: ۲۳ ــ ۳۴، ۵۷ ــ ۶۱: دا د «سنگ بست» په شمال او د هرات د لویدیځ په نیږدې ۱۵ مایلۍ کي یو کلی دی. دې کلي کي ۲۶۰ تنه استوگن وگړي دي چې ۱۰۰ کورني څاروي او ۳۰۰ پسونه او وزې لري. ددوی د غلاتو کلنی کرهنیز حاصل ۴۸۰۰۰ مونده دی. (ونلیس، اکتوبر ۱۹۰۳) اوسنۍ نقشې د دشتِ سرخ نوم ښیي.
سرخ آبي: سرخابي: دا د قلعـۀ نو د هزاره گانو یوه قومي ځانگه ده.
سرخک: ۳۲ ــ ۳۴، ۳ ــ ۶۳: دا د یاري تگاو په سر کي یو کوتل دی. همدا شان په همدغـۀ نامـۀ یو کلی هم سته چې د کوهٔ سرخلاص په لویدیځ کي په ۵۴ ــ ۳۳، ۳۷ ــ ۶۴ (ن) کي موقعیت لري.
* **سرخ جوی:** ۳۴ ــ ۳۴، ۴۶ ــ ۶۵ (ن): دا د دولت یار کلي ته نیږدې د هریرود پر غاړه د یوهٔ ځای نوم دی.
* **سرخ کوتل:** کوتلِ سرخ: ۲۷ ــ ۳۴، ۱۱ ــ ۶۲ (ن) دا د هرات د شمال په ۱۰ مایلۍ کي یو کوتل دی.
سرخ رباط: رباطِ سرخ: ۴ ــ ۳۵ ، ۳۰ ــ ۶۱ (ن): لوړوالی: ۴۳۵۰ فیټه. دا یو کوتل دی چې د رباطِ سرخ په نامـۀ پیژندل کیږي او د هغو غرونو پر سر واقع دی چې د غوریانو ولسوالي له بادغیس څخه جلا کوي. ددې کوتل سر د خـمباو د کوتل له سویل ختیځه ۳ مایله لیرې دی. دا کوتل د خمباو تر کوتل لوړ دی د کوتل سویل لویدیځې ډډې کي ئـې شیوه والی د خمباو له کوتل څخه ډیر دی. خو له دې سره سره دا هم د خمباو په شان گلرانو او چاه یالکي ته یوه آسانه لاره ده. (میتلند، پیکاک)
تب: ــ ۳۴، ــ ۶۳: ویل سوي چې دا په اوبې کي کوم کلی دی او د غلزیو ۵۰ کورنۍ په کي استوگنې دي. (بومي معلومات)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

تبق بادار: دا په کشک کې د استوګنو جمشیدیانو یوه کوچنۍ ډله ده. (اې.بي. سي.)
* **تبک سر:** ۴۵ ــ ۳۳، ۱۲ ــ ۶۴: دا د تیوري دشمال لویدیځ په ۲۸ مایلۍ د یوۀ ځای نوم دی.
تګاب: تګاو د تګاو تحریف سوي بڼه ده چې د کاسه ډنډ، کم عمقه ځای، درې، تنګي درې او یا د سیند په معنی ګانو کارول کیږي. د هغو ځایونو نومونه چې په تګاب یا تګاو پیل کیږي د فارسي یو اضافت اخلي چې د ورپسې راتلونکي نوم ځانګړتیاوې ورباندې روښانه سي. له دې کبله هم تګاو او هم تګاب وګورئ او که مو ونه موند نو د ځای دویم نوم ورپسې وګورئ.
* **تګاب ارت:** ۶ ــ ۳۴، ۵ ــ ۶۳: دا له ایشلان څخه ۴۰ مایله لیرې یو سیند دی.
* **تګاب ارزوک:** ۹ ــ ۳۴، ۲ ــ ۶۴: دا د شهرک د شمال لویدیځ په ۲۲ مایلۍ یوه تنګه دره ده.
* **تګاب اسپ سوات:** ۹ ــ ۳۴، ۲۷ ــ ۶۳: دا د ایشلان د شمال لویدیځ په ۱۸ مایلۍ یوه تنګه دره ده.
* **تګاب بلوه:** ۰ ــ ۳۴، ۲۸ ــ ۶۳: دا د ایشلان د سویل لویدیځ په ۱۲ مایلۍ یو سیند دی.
* **تګاب چبري:** ۲۷ ــ ۳۴، ۲۵ ــ ۶۵: دا د دولتیار د سویل لویدیځ په ۴۲ مایلۍ کې یو سیند دی. همدا شان په همدې نامـۀ یو کلی هم سته چې په اوسنیو نقشو کې چَپَري لیکل سوی دی او په ۲۴ ــ ۳۴، ۲۹ ــ ۶۵ کې موقعیت لري.
* **تګاب چهار راه:** ۶ ــ ۳۴، ۵۲ ــ ۶۳ (ن): دا د شهرک د لویدیځ په ۴۷ مایلۍ کې یو سیند دی.
* **تګاب چشمه دراز:** ۴ ــ ۳۴، ۵۱ ــ ۶۳ (ن): دا د شهرک د لویدیځ په ۵۴ مایلۍ کې یو سیند دی. همدا شان په همدې نامـۀ یو کلی په ۲ ــ ۳۴، ۵۳ ــ ۶۳ کې موقعیت لري.
* **تګاب چوی دک:** ۲۹ ــ ۳۴، ۲ ــ ۶۵: دا د کانسي د سویل لویدیځ په ۲۰ مایلۍ کې یو سیند دی.
* **تګاب دربند سفید:** ۲۹ ــ ۳۴، ۵۰ ــ ۶۵: دا د دولتیار د سویل ختیځ په ۶ مایلۍ کې د یوۀ ځای نوم دی.
* **تګاب ګنجک:** ۲۱ ــ ۳۴، ۲۴ ــ ۶۵: دا د نخشي د شمال ختیځ په ۳۴ مایلۍ کې یوه تنګه دره ده.
* **تګاب ګرمابه بالا:** ۲۵ ــ ۳۴، ۵۶ ــ ۶۵: دا د دولتیار د سویل ختیځ په ۱۴ مایلۍ کې یو سیند دی.
* **تګاب ګاو کـِش:** ۹ ــ ۳۴، ۱۶ ــ ۶۴: دا د شهرک د لویدیځ په ۳۲ مایلۍ کې یو سیند دی.
* **تګاب ګزک:** ۸ ــ ۳۴، ۴۸ ــ ۶۳: دا د شهرک د لویدیځ په ۴۰ مایلۍ کې یو سیند دی. همدا شان په همدغـۀ نامـۀ کلی د اوبې په سویل کې په ۱۱ ــ ۳۴، ۱۶ ــ ۶۳ کې موقعیت لري.
* **تګاب جنګل:** ۱۸ ــ ۳۴، ۵۸ ــ ۶۳: دا د مرغه د سویل ختیځ په ۳ مایلۍ کې یوه تنګه دره ده.
* **تګاب جوی میر هزار:** ۱۳ ــ ۳۴، ۴۹ ــ ۶۵: دا د دولت یار د سویل لویدیځ په ۴۰ مایلۍ کې یو سیند دی.
* **تګاب خرس خانه:** ۱ ــ ۳۴، ۴ ــ ۶۵: دا د نخشي د سویل په ۱۹ مایلۍ کې یو سیند دی.
* **تګاب خوش مرګ:** ۵۰ ــ ۳۴، ۵ ــ ۶۳: دا د قلعـۀ نو د سویل په ۱۲ مایلۍ کې یو کلی دی.
* **تګاب خوش مرګ:** ۵۲ ــ ۳۴، ۷ ــ ۶۳: دا د قلعـۀ نو په سویل د «لمان» په درې کې یو کلی دی.
* **تګاب خواجه هروي:** ۹ ــ ۳۴، ۲۶ ــ ۶۳: دا د ایشلان د شمال لویدیځ په ۱۲ مایلۍ کې یو سیند دی.
* **تګاب لشکر راه:** ۳۲ ــ ۳۴، ۴۹ ــ ۶۵ (ن): دا د دولت یار د سویل ختیځ په ۸ مایلۍ کې یو سیند دی.
* **تګاب مچ:** ۳۰ ــ ۳۴، ۱۵ ــ ۶۳: دا د اوبې د شمال لویدیځ په ۹ مایلۍ کې یو منځګری دی.
* **تګاب سبزک:** ۱۶ ــ ۳۴، ۲۳ ــ ۶۵: دا د نخشي د شمال ختیځ په ۲۶ مایلۍ کې یو منځګری دی.
* **تګاب شتر راه:** ۹ ــ ۳۴، ۴۷ ــ ۶۳: دا د شهرک د لویدیځ په ۴۷ مایلۍ کې یو منځګری دی. اوسنۍ نقشې د «تیغِ اشتر راه» نوم ښیي.
* **تګاب تربولک:** ۷ ــ ۳۴، ۴۱ ــ ۶۴ (ن): دا د ګذرپام د شمال ختیځ په ۲۶ مایلۍ کې یو سیند دی.
* **تګاب یوسف:** ۵۲ ــ ۳۴، ۱۴ ــ ۶۵: دا د کانسي د شمال لویدیځ په ۲۶ مایلۍ یو ځای دی.
تاګچي: تګچي: دا د محمودي فیروزکوهیانو یوه ځانګه ده.
تګاو اخته خانه: ۳۱ ــ ۳۴، ۱۲- ۶۵: دا تګاو له آهنګرانو ۴/۱ ۶ مایله پورته هریرود ته ورلویږي. په دې کې یوه کنډواله کلا ده چې د «کلوَرګاه[11]» په نامـۀ یادیږي. (ونلیس ۱۹۰۴) *نقشې د دهانِ اخته خانه نوم ښیي. وړاندې سویل لور ته یو کلی دی چې اخته خانه نومیږي چې به ۲۶ ــ ۳۴، ۱۳ ــ ۶۵ (ن) کې موقعیت لري.*
تګاو علم: ۱۳ ــ ۳۵، ۵۰ ــ ۶۳: دا د مرغاب په ولسوالۍ کې د استوګنې یوه سیمه ده. اوسنۍ نقشې د «دهانِ تګابِ علم» په نامـۀ یو سیند ښیي.

[11] - Kalwargah

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

تگاو علمدار: ۳۰ – ۳۵، ۶ – ۶۵ (ن): دا تگاو له آهنگران څخه ۲/۱ ۴ مایله پورته له ښی لوري هریرود ته لویږي.
په اوسنیو نقشو کې دا نوم د «الندار[12]» په نامهٔ لیکل سوی دی.
تگاو غازي: ۲۱ – ۳۴، ۴۰ – ۶۳ (ن): دا د اوبې د ولسوالی د چشت په علاقه داری کې یو کلی دی چې ۲۰ د سیدانو او ۱۰ د تایمنیانو کورونه په کې دي. (دابس ۱۹۰۴) *اوسنی نقشې دا نوم د تگاب غزه په نامهٔ ښیي.*
تگاو اسماعیل: ۵۶ – ۳۴، ۷ – ۵۶ (ن): دا د قلعهٔ نو په ولسوالی کې د ۳۶۵ کندیلیانو[13] یو کلی دی. (دابس ۱۹۰۴)
تگاو لامان: ۵۲ – ۳۴، ۴ – ۶۳ (ن): دا تگاو د بندِ بابا له لړی څخه پر قلعهٔ نو تقریباً له شمال لوري راکوزیږي چې همدلته بیا د خارستان له کاسه ډنډ سره یو ځای کیږي.
د قلعهٔ نو څنگ ته دا دره نیم مایل پلنه ده چې د ۱۰۰ فیټو په لوړوالي غرونو په غیږ کې نیولې ده. سیند ددرې ښی خوا ته نیږدې بهیږي او بستر ئې ۲۰ یارډه ارت دی، ، د سیند ژی ستوغې او ښوییدلي دي او ۱۵ فیټه لوړوالی لري. په ژمي کې سیند دومره اوبهٔ نهٔ لري. بیخ ئې له جغلو ډک دی.
پورته خوا ته د سیند په اوږدو کې له ۷ مایلو وروسته خواجه دو برادر رارسیږي. تر دې ځایه هیڅ کرهنه نهٔ ده سوې. په هغهٔ ځای کې چې د چک آو (چک آب – ژ) سړک له لویدیځ لوري راځي دره ۱۰۰ یارډه پراخه ده چې ډډې ئې ستوغې او ان عمودي دي او لوړوالی ئې د اوبو له سره له ۵۰ تر ۲۰۰ فیټو پورې رسیږي.
په دو برادر کې پریمانه غنم او وربشې کرل سوي دي.
په ۲/۱ ۱۰ مایل کې د «تگاو خواجه شاه مُرگ[14]» د هزاره گانو د استوگنې سیمه مو مخې ته راځي چې د عبدل هزاره گانو ۴۰ کورنۍ په کې استوگنې دي، دوی ۱۸۰ کورني څاروي او ۲۰۰۰ پسونه لري او سیمه کې ئې ډیره لږ کرهنه سوې ده.
په دیارلسم مایل کې د خواجه هزاره گانو (سیدانو) د ۳۰ کورنیو د استوگنې سیمه په خواجه شاه مُرگ کې ښی غاړې ته راځي. دوی له ختو په جوړو جونگړو کې ژوند کوي نهٔ په خرگاه گانو کې. دلته د سپیدار د ونو او د میوو د ونو ځنگلونه سته. لاره ئې له سره تر پایه ښه ده او په پرله پسې ډول له سیند څخه اوړي او را اوړي. درې مایله پورته د لامان کلی راځي چې د سیدانو ۱۲ او د قبچاقانو ۳۰ کورونه په کې دي.
دره گام پر گام تنگیږي تر دې چې تر ۳۰۰ یارډو پورې تنگه سي او ښوییدلي گړنگونه د دیوالونو په شان رانیږدې کیږي. اوبهٔ ئې ښې او پریمانه دي او پریمانه سون توکي هم په کې سته. درې مایله لا نور پورته یوه بله تنگه دره له ختیځ لوري راځي چې پر سر باندې ئې «همان/ هامان[15]» ته لاره تللې ده، هامان د هزار میشي په درې کې دی.
دغه کوچنۍ دره د «نی کشک[16]» په نامهٔ یادیږي چې ددرې په خولهٔ کې د هرات د افغان (پښتنو – ژ) مالدارانو ۱۰ کیږدۍ په کې ولاړې دي او دوی ۷۰۰ پسونه لري.
شپږ مایله لا نور وړاندې د درې په دواړو خواوو کې ښوییدلي گړنگونه شا ته ځي او دره نسبتاً پراخیږي.
دوه مایله لا نور وړاندې دا دره په نرم ډول سویل ختیځ خوا ته کږیږي او یو مایل وروسته ئې د لامان کلی راځي چې له بندِ بابا څخه راپورته سوي د ۳ سیندونو د یو ځای کیدنې په ټکي کې موقعیت لری او دا ځای په سویل کې د بندِ لامان په نامهٔ یادیږي. د لامان په کلي کې د خواجه هزاره گانو ۳۰ کورنۍ، د دایکندي هزاره گانو ۲۵ او د فیروزکوهیانو ۲۵ کورنۍ استوگنې دي. دوی ۱۷۰ کورني څاروي او ۲۵۰۰ پسونه لري.
له دهستانه د قادس تر کوتل پورې د لامان د کلي له لارې یوه لاره تللې ده.
تر لامان پورې تللی سړک له سره تر پایه نسبتاً ښه لاره ده. پر دې لاره باندې بار وړونکو څارویو ته کومه ستونزه نه سته او هم د عرابه لرونکو وسایطو لپاره عملي ده خو ډیر ژر به د ډیر ترافیک له کبله درې وړې سي.
تگاو مزار: ۲۰ – ۳۴، ۱۰ – ۶۴ (ن): دا د شهرک په ولسوالی کې د ۴۰ تایمني کورنیو یو کلی (ژمنی مرکز) دی. دابس (۱۹۰۴)

نوربیا

* **تگاو محمد عمر خان**: ۳۵

یادونه: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دویم ټوک او دریم ټوک ټولي برخي لوستی شی.

---

[12] - Alandar
[13] - Kundilans
[14] - Tagao Khwaja Shah Murg
[15] - Haman
[16] - Nai Kushk

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ